فاطیما کلی

ژباړه: محمدرحیم درانی

د «**فاطیما کلی**» نامې اوریدو سره مونږ یوې تاریخي پیښې سره آشنا شو او همدارنګ د نړۍ په جغرافیا کې یوې سیمې سره، ګورو چې د فاطمه زهرا سلام الله علیها نامه د اسلام له پولو وتې ده او په عجیبه طریقې سره د خدایي دینونو تر مینځ د یووالي سبب جوړه شوې ده!

«**فاطیما**» کلی په یورپ کې په یو وړوکي کلي په پرتګال کې کلنو وشو چې د خپلو مینه والو په زړونو کې یې ځان لپاره ځای کړی دی او په کروړونو هغه انسانان چې د معنویت نه په خالي وخت کې ژوند کوي او په دې تورې تیرې نړۍ کې د پناه ځای نه مومي، هغوي د خپل هدایت لپاره د **فاطمیا** په لور روان شوي دي او له هغه میرمنه شفاعت او دعا غواړي.

د هغوي په ذهن کې فاطیما د زهرایي نور او ځلا یوه نښه ده. فاطیما د هغوي په نظر کې د پیغمبر(ص) لور او د تسبیح او ستاینې څیښتنه ده.

د **فاطیما** غږ، په عالم کې د حقیقي منجي د ظهور غږ دی. هغوي له **فاطیما** شفا اخلي، هغوي د فاطیما لپاره نذرونه کوي او په پرسنګونو لاره پښې ابلې او ژوبل پښو سره وهي چې زیارت ته ځان ورسوي. داسې څوک نشته چې د معنویت په تږي نړۍ کې د فاطیما له معجزې منکر وي او داسې څوک نشته چې د خپلې شفا او د نفس د پاکۍ کیسه ځان سره خپل وطن ته یونه سي او په کلونو د حضرت فاطیما د زیارت کیسه یاده ساتي.

هو، داسې څوک نشته چې د فاطیما د اوچتو برجونو او ټاورو غږ واوري او د فاطیما د معجزې په هکله فکر ونه کړي.

د پرتګال هیواد، د ایبري ټاپوزمې په لویدیځ کې او د اټلس سمندر په څنګ کې د سپین په لویدیځ کې دی او که څه هم د مسلمانانو بریالو پینځه پیړۍ وروسته د یوولسمې میلادي پیړۍ په اخر کې د جوماتونو دنګې منارې د کلیسا په برجونو بدلې شوې، خو له نیمې پیړۍ زیات وخت کیږي چې د پیغمبر(ص) د لور نامه **د فاطیما د کلیسا** په ټولو لوړ برج باندې ځلیږي. هو منارې په برجونو بدلې شوې او بریالي شوي مسلمانانو په 710 میلادي کې له پرتګاله حجرت وکړ خو د **حضرت فاطیما** نامه هیڅ کله د پرتګال او خوا و شا د سیمو خلکو له زړونو پاکه نه شوه.

په 1917 میلادي کال کې په پرتګال کې داسې پیښه ترسره شوه چې د دې سبب شوه چې د فاطیما مینه له زړونو په ژبو راشي او بیا د پرتګال د خلکو په ژورو عقیدو کې ځای ونیسي او تاریخ تړې جوړ شي.

لومړۍ برخه:

فاطیما، هغه کلی چې د ډیرو زیاتو زوارانو په راتلو سره دا کلی اوس په یو زیارتي ښار بدل شوی دی. یو داسې ښار چې د نړۍ د ټولو زیارتي ښارونو په شان، په دې ښار کې د **فاطیما** په نامې یو ګنبد او یو زیارت دی او د زیارت د مینه والو لپاره په کې د خدمت ټول سامانونه موجود دي.

د ښار نوې ځیرې هم د دې ځمکې هغه زړې ځانګړتیاوې له منځه نه دي وړي. مسلمانان په 710 میلادي کال کې ایبري ټاپوزمې ته ننوتل او د مسلمانانو ګټونکیو لکه عبدالرحمان او نورو هغه کیسې د پرتګال د خلکو له ذهنونو نه دي پاکې شوې. د روډونو ځینې نامې لکه «الجیش» او «الغربي» اوس هم د ښار په سړکونو باندې د مسلمانانو د شتون خبر ورکوي.

د ایبري د ټاپوزمې خلکو د مسلمانانو کټونکیو په وسیله راړول شوې پوهې، رسمونه رواجونه لا تر اوسه ځان سره ساتلي دي، د زمیدارۍ طریقه، د ښځو پرده، له اسلامي عقیدو خبرتیا او نور دا هغه نښې دي چې ښایي دوي مسلمانان منلي وي. په دې سیمه کې ځای په ځای مونږ د مسلمانانو فاتحانو شتون حس کولی شو، په دې مینځ کې کوم ځیز چې له ټولو زیات مونږ د اسلام لومړیو وختونو ته بیایي هغه د پاکی بی‌بی د لیدو کیسه ده چې د کلي ریښتوني ماشومان هغه د «فاطیما» د پیغمبر(ص) د لور په نامه پیژني چې د تسبیح میرمن وه.

دویمه برخه:

دا پیښه له هغه ځایه شورو کیږي چې د کلي درې ماشومان د کلی په خوا کې یو داسې حقیقت ویني چې بیا د هغه خلکو د ژوند په تاریخ کې د یو ژورې عقیدې او باور سرچینه جوړه شي.

چاسینتا ۷ کلنه، فرانسیسکو ۹ کلنه او لوسیا ۱۰ کلنه.

د دې پیښې اصلي ګواه لوسیا ده او دا پیښه د درې واړو ماشومانو له خلې داسې ده:

په 1916 میلادي کال کې، له دې یو کال وړاندې چې مونږ دغه ځلیدونکی میرمن ووینو، مونږ ته یوه فرښته څرګنده شوه او درې ځله یې دا خبره وکړه:

مه ویریږئ، زه د صلحې فرښته یم،

خدایه! زه دا ایمان لرم، باور لرم او مینه لرم تا سره او مغفرت غواړم د هغه چا لپاره چې مرستیال نه لري، مینه نه کوي او ایمان نه لري.

فرښته دو ځلې نوره هغوي ته څرګنده شوه په دوبي او مني کې، او هر ځل یې له ماشومانو یو څیز وغوښت:

دا چې قرباني دې ورکړي او د ګناهونو لپاره دې استغفار وکړي او د هغوي د بدلیدو لپاره دې دعا وکړي.

او دا درې ځله لیدل وو چې ماشومان یې د تسبیح د میرمن لیدلو ته چمتو کړل.

د 1917 میلادي کال د مئي د میاشتې په ۱۳ نیټه ماشومانو دوه ځله ځلیدونکی نور ولید او بیا د اوک په ونې کې یو ډیر لوی نور څرګند شو:

هغه میرمن چې له لمره زیاته ځلیده د فاطیما په نامه،

مه ویریږئ زه نه غواړم چې تاسو وویروم.

تاسو څوک یئ؟

زه فاطمه د پیغمبر لور یم،

ته له کوم ځایه راغلی؟

زه له جنته.

له مونږ څه غواړې؟

زه دلته راغلی یم چې له تاسو وغواړم چې بیا دلته راشئ. نو بیا به درته ووایم چې له تاسو څه غواړم.

بیا د تسبیح میرمن به هره میاشت څرګندیده، د مئي له میاشتې تر اکتوبره او په شپږم او اخري کتنه کې هغې د هغه 70 زره کسانو په وړاندې، چې د هغې د لیدلو لپاره راغونډ شوي وو، یوه لویه معجزه وښودله.

د انتظار کونکیو کسانو د سترګو په وړاندې، باران ودرید او ناڅاپه لمر په آسمان کې ولړځید او ودرید او بیا تاو شو او ودرید، داسې چې خلکو دا ویل چې کیدی شي لمر په هغوي باندې راوغورځیږي.

له دې وروسته بیا لمر خپل ځای ته ستون شو او بیا د خپلې مخکښینۍ ځلا په شان ښکلی په ځلا شو.

د دې پیښې لومړۍ انځور په لیسیون ورځپاڼې کې په 15 اکتوبر هماغه کال چاپ شو.

د دې پیښې خبر چې خپور شو نو د مینه والو ډیرو زیاتو څیړونکو پام یې د هغه دریو ماشومانو خبرو ته راواړوه چې اوس به هغوي هر څه ویل نو خلکو به منل ځکه چې په خپلو سترګو یې د حضرت فاطیما کرامت لیدلی و.

دریمه برخه:

د دې پیښې عیني شاهدان چې د «فاطیما» لیدنه یې کړې وه، لوسیا ۱۰کلنه چې مذهبي ژوند ته ننوته او ځان یې دې لیدلو ته وقف کړ او ژوندۍ پاتې شوه، ځکه چې میرمن به هغې ته حکم کاوه، نو د عبادت د رواجولو لپاره خدای هغې ته اوږد ژوند ورکړ.

فرانسیسکو مارتو ۹کلنه او جاسینتامارتو ۷کلنه چې له دې پیښې دوه درې کاله وروسته ناروغه شوې او له دنیا لاړې او د فاطیما د لیدلو خبره یې لوسیا ته پریښوده. هغه د دغه درې ماشومانو تر مینځ یواځینۍ کسه وه چې هم یې د تسبیح د میرمن فاطیما غږ واورید او هم یې ولیده او هم یې هغې سره خبرې وکړې. جاسینتا، میرمن ولیده او د هغې غږ یې واورید او فرانسیسکو یوازې میرمن ولیده خو غږ یې وانه ورید او په خپله یې هم هغې سره خبرې ونه کړې

شوې! د ماشومانو د خبرو رښتيا والی لومړي ځل يواځې د هغوي مور پلار ومانه او ويل به يې: «هغوي هيڅکله په ژوند کې دروغ نه دي ويلي».

د دغه دوو ماشومانو زر مړيدل نه يواځې دا چې د خلکو عقيده يې کمزورې کړه بلکه عقيده يې نوره هم زياته شوه ځکه چې هغه ځليدونکي ميرمن هغه دوو ماشومانو ته ويلي وو چې زه به ډير زر راځم او تاسو به ځان سره جنت ته بوزم، او دا خبره د هغه ميرمن لپاره يوه بله معجزه ګڼل کيږي چې د تسبيح ميرمنې ډواند وينه کړې وه. هغه ماشومان اوس د خلکو په زړونو او سترګو کې لوړ او پاک مقام لري ځکه چې د هغوي سترګې د **حضرت فاطيما** د ليدو قابلې شوې وې.

په دې پيښې پسې په 1919 کې په فاطيما کلي کې يو عبادتځای جوړ کړی شو. يو داسې ګنبد چې درې کاله وروسته د متعصبو کسانو په لاس وران کړې شو او څه وخت بعد دوباره جوړ کړې شو.

په 1928 کښې د دې بلډينګ لومړۍ کاڼې کيښودې شو او په 1930 کې اسقف ليږيا د پاک آيين «**زمونږ پاکه ميرمن فاطيما**» د جوړولو حکم وکړ.

په 1932 کې «**زمونږ ميرمن فاطيما**» د عبارت د رسم اجازت د کليسا له خوا ورکړې شو او اخر په 1953 کې يې دې زيارت ته د رسمي زيارتځای درجه ورکړې شوه. که څه هم دا خبرې په سياسي توګه تيريدې خو د خلکو په زړونو کې له هماغه لومړۍ ورځې چې د لمر پيښه وشوه، د فاطيما ګنبد د زړونو د زيارت ځای شوې و. او دا د خلکو باور او عقيدې وې چې د سياست خاوندان يې په فاطيما باندې عقيدې ته اړ کړل او عجيبه دا ده چې د کاتوليک د کليساګانو مشران هم د فاطيما د مريدانو په ډلې کې شامل شول. هم دا د خلکو د ټينګار او پخې عقيدې سبب و چې د دې پيښې رسمي شونې باندې يې ټينګار وکړ. او هر کال د مئي د مياشتې په ديارلسمې نيټې د پرتګال له هرې سيمې او خوا و شا هيوادنو خلک د فاطيما مريدان، د زيارت لپاره او د شفاعت د غوښتلو او د نفس د پاکۍ لپاره فاطيما ښاريې ته راځي.

د دې سفر معنوي اثر له رازه ډک دی **د تسبيح د ميرمن** د يادونو ښار ته سفر، هغه سفر دی چې په کوم کې يوه «نامه» د زوارانو په زړونو باندې دومره ژور اغيز لري چې هر کال هغوي ځان ته راکاږي او د حضرت فاطيما د جاذبې تر مدار لاندې راځي. دا خلک له فاطيما شفا اخلي، له هغې بې‌بی شفاعت غواړي او د خپل روح پاکي د هغه لويې ځليدونکي ميرمن د دعا د قبليدو له سببه ګڼي.

له همدې سببه د عاشقانو او مئينو زوارانو د زړونو او د هغوي د بې ريا مينې تر مينځ چې کومه يې له فاطيما سره ده، هيڅ کوم څيز شک او ترديد او تحريف نه شي اچولی. هيڅوک نه شي کولې چې د دې بې‌بی د جاري کرامت، چې تاريخي پيښه ده، انکار وکړي او پټه يې کړي. ځکه چې **د فاطيما د زيارت عاشقان** چې هره ورځ دا سمندر ورو ورو په زياتيدو دی، د دې سمندر دغه لويې څپې داسې نه دي چې څوک يې پټې کړې شي يا ترې انکار وکړی شي.

د فاطيما ښار د همدې عقيدو او باورونو له سببه اوس د دينونو تر مينځ د توسل او اکرام يو ځيره پيدا کړې ده. هر کس د خپل دين د خاص رسم مطابق د فاطيما درناوې کوي، د شمعو نذرونه، زيارت ته د پيدا تلو نذرونه، په ويخه شپې تيرول او دعا کول، د ذکر او ژړا رسمونه، دا ټول حضرت فاطيما سره د خلکو د زړه د توسل نښې دي.

په دې مینځ کې د تسبحاتو ذکر له ټولو زیات رواج لري چې د اسلام لویې میرمنې په خپل آخرني دیدار کې له خلکو غوښتی دی چې هره ورځ دې تسبیحاتو ته ادامه ورکړي. د تسبیحاتو ذکر په بیلا بیلو ژبو کې دی او «**د میرمن فاطیما د پاک رسم**» له ټولو معتبره دعا همدا تسبیحات دي. زوار راځي چې د حضرت فاطیما د لیدو د کیسې په یاد کې هغه سپینه مجسمه وویني. ټول د منښتې او غوښتې لپاره له مجسمې ګېر چاپېر غونډیږي، ځینې ترې شفاعت غواړي او ځینې ترې دا غواړي چې خدای دې د لویدیځ په دغه تیاره نړۍ کې د هغوي ناروغه زړونو ته بیا ایمان نصیب کړي. هغوي د عدالت د ملر د راختلو په انتظار کې له فاطیما غواړي چې ژوند یې بدل شي. خلک په خپله وایي چې ډیر ځلې داسې کیږي چې څوک د فاطیما له ښاره خالي لاس نه ستنیږي.

څلورمه برخه:

د زوارانو د عبادتځای په کڅ اړخ کې ناروغه زواران د خپلې ناروغۍ د شفا یا د ناروغۍ د زغم لپاره شپه په چپه یا تسبیح سره تیروي. یوه ژبه دا توان نه لري چې د هغې ژورې کړتیا حقیقت بیان کړي کوم چې د دې خلکو او د هغوي حضرت فاطیما سره د عجیبه توسل تر مینځ دی. «**د میرمن فاطیما د پاکې لیدنې د یاد**» کیسې ته دومره لوی چمتو والې او د خلکو صبر او زغم او دومره پخه اراده آیا دا ټول عجیبه نه دي؟ دا خلک د عسائیت له نړۍ د اسلام نړۍ ته سفر کوي یعنې د اسلام د پیغمبر لور بې‌بی زهرا سلام الله علیها سره خپله د زړه مینه او عشق څرګندوي، آیا دا عجیبه خبره نه ده؟ هغوي خپل د هغه کمرنګه انځور مطابق چې د بې‌بی زهرا سلام الله علیها یې لري خپل عبادتونه په بیلا بیلو طریقو ترسره کوي، د فاطمه تسبیح په لاس کې اخلي او په سلیب یې آویزانوي، د هغه حضرت لپاره کلیسا جوړي خو د بې‌بی فاطمه نامه وربانديې ږدي، د یو کس د شفا لپاره د فاطیما ملن نیسی او د هغه ملر د پیښې یادونه کوي او ځان د خپلو هغه آدابو په لاس ورکوي چې ورسره مینه لري نو ټول عجیبه نه دي؟ باید ووایو نه، دا ټول عجیبه نه دي، ځکه چې دا کسان چې څومره مذهب سره پیژندګلو لري نو د خپلې وس او پوهې مطابق د فاطیما ملن نیسي. هغوي د خپل تصور مطابق د فاطیما پاک او روحاني آیین ته جسمیت ورکوي، **د فاطیما لپاره نذر** کوي او پښې ابله او زخمي زانګونانو سره په کلومیټرو لاره وهي چې هغې ته ورسي او د خپلو دردونو درون بار په داسې نړۍ کې چې د معرفت ترې ده، یو داسې حقیقت ته وسپاري چې د هغوي لپاره د پاکۍ، نجات او بریالیتوب یو سمبل دی. او که داسې نه وي نو دا دومره ډیر کسان څه کوي چې د یوې نوراني پیښې په یاد کې د دومره احساساتو څرګندونه کوي ته به وایې لکه د خلکو زړونه چې د حقیقت ترې دي چې په لاسو کې یې نیولې دي او د فاطیما د وجود حقیقت ته، نه د هغې تمثیل، مثالونو او مجسمو ته یې وړاندې کوي.

پینځمه برخه:

په دې رسم کې هر کال د خلکو شمېر په زیاتیدو دی او کوم کسان چې ویني او کوم کسان چې پوهیږي او د فاطیما د حاضریدو حقیقت په دې پاک ښار کې حس کوي هغوي هغه کسانو ته، چې نه پوهیږي او نه ویني او هغه کسان چې په بې ولایته ټولنه کې د نوراني حضور د حقیقت ترې دي، د فاطمه زهرا د ولایت په لور بلنه ورکوي. په پرتګال کې د فاطیما ښار داسې د نړۍ د خلکو په نظر کې خوښ او خوږ ناست دی او هغه قدمځایونه چې په هغه کې هر یو د تسبیح د میرمنې د دیدار ځای دی د خلکو په زړونو او نظر کې د دعا قبلیدو ځایونه دي. او دا ځای یو له هغه ځایونو دی چې دیدار او کتنه په کې شوې وه «**د لوسیا د پلار د کور کوهې**» دا هغه ځای دی چې لویې میرمنې

هغوي ته حقیقت وښود او دا کورونه د هغه ماشومانو کورنه دی چې د هغوي رښتیاوالي تاریخ ته د حقیقت سبق وښود. هغه ماشومان چې د حققت د بیانولو اتلان شول او اوس یو عجیبه پاکۍ سره د ابدیت په لور تللي دي.

شپږمه برخه:

د پاپانو **د فاطیما زیارت** ته راتلل ساده نه دي. د عسایانو پلارانو (د هغوي د ملایانو) د اسلام د لوي میرمنې طرف ته مخ کول یوه لویه کیسه ده چې د فاطیما عقیدتمنو لپاره د حضرت فاطیما او د هغې د رسمونو په حق شونه نوره هم روښانوي او مونږ ته ښایي چې د اسلام دغې لویې میرمنې په عسایانو کې څومره ژور اغیز لرلی دی.

د زواران تر مینځ **شپږم پاپ ژان پال** د 1967 کال د مئي په میاشت کې کله چې د فاطیما (فاطمه زهرا) د پاک آئین پنځوسمه کلیزه لمانځل کیده نو هغه فاطیما ته لیدو ته ورغلی و.

د 1982 کال په مئي میاشت کې هم **دوم پاپ ژان پال** فاطیما ته راغی چې د اسلام له میرمنې مننه وکړي ځکه چې خدای پاک په یوه پیښه کې هغه ساتلی و.

اوومه برخه:

خلک د دعا اصلي شپې ته رسیدلي دي، د مئي د میاشتې ۱۳ نیټه چې د تسبیح د میرمن د وصیت مطابق باید دا شپه په دعا، تسبیح او استغفار سره تیره شي. دا هغه سبق دی چې خلکو له فاطیما زده کړی دی او خپله عقیده او د زړه باور یې نور هم زیات کړی دی. هغه سبق چې ورسره د خلکو ډیره زیاته مخه شوه او د عسائیت نړۍ ته یې خپله لاره هواره لیدلې ده.

اوس کلیسا د فاطیما پیښې حقیقت سره چلند داسې دی:

کلیسا د فاطیما پیغام قبول کړ، ځکه چې په دې کې حقیقت دی، هغه حقیقت چې د انجیل غږ هم و.

او داسې د فاطیما هغه رسم له هغه پیښې چې د تاریخ په تحریفاتو کې له منځه تلی شو د ګواهانو په ګواهۍ سره نن د فاطیما په ښار کې د عبادت په خصوصیت بدل شوی دی، اوس که هغوي د فاطمه زهرا حقیقت ټول پیژندلی وي او که نه دا پیژندګلو یې په ذهن او جان کې لږ تر لږه وي، هر حال کې دا ویلی شو چې نن په دې سیمه کې **حضرت فاطیما** د خلکو د روح د پاکۍ او د هیلو د پوره کیدو مظهر جوړه شوې ده او اوس د خلکو دغه زیاتیدل او د فاطیما په ښار باندې عقیده یوه نړیواله پراختیا موندلې ده او دا یوازې د یوې نامې د پیژندګلو یوه لویه معجزه ده او بیا د هغه بې‌بی نامه چې خلک ورو ورو په خپلو لونو باندې د فاطمه بې‌بی نامه ږدي له دې هم لویه خبره ده. هغه کسان چې په سلګونو کلومیټره لاره له لرې لرې د دې لپاره وهي چې ځان دلته راورسوي او شپه او ورځ، ګرمي او سړه او باران هغوي له دې فریضې نه منعه کوي چې خپل نذر پوره کړي او ځان زیارت ته ورسوي او د هغوي په شوندو دا خبره جاري کوي:

«**زمونږ میرمنې فاطیما!** د تسبیح میرمنې بې‌بی! ځلیدونکي میرمنې! زه اوس مجبور یم چې له تا جدا شم زه له خدایه غواړم چې زما تاسره دا آخرنۍ لیدنه نه وي او تل دې دا شوق زما په وجود کې ژوندی وي. ای فاطمه! د خدای په آمان ای زمونږ پاکې میرمنې».

والسلام